# جماعت اسلامي او پښتونخوا

محمد عارف جان

د جماعت اسلامي محمد ابراهیم په پېښور کښې شوي یو کانفرنس ته کړي تقریر دانشوران عموماً او پښتانۀ خصوصاً را پارولي دي. ښاغلي وئیلي دي چې پښتونخوا څۀ خاص مسئله نۀ ده پکار ده چې حکومت د دهشت ګردۍ، بې روزګارۍ او د امن و امان حالت ښۀ کولو ته پام وکړي. هغۀ دا هم وئیلي دي چې د دې سیمې پښتنو په ۱۹۴۷ کښې پښتونخوا مسترد کړې ده. په دې کانفرنس کښې پاکستان مسلم لیګ (ن) او (ق) هم شامل وو او د هزارې ضلعي ناظمانو هم پکښې شرکت لرلو.

ورومبۍ خو دا ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې د جماعت اسلامي یو سینئیر لیډر دهشت ګردۍ او انتها پسندۍ ته هم مسئله وئیلې ده . په ماضي کښې خو جماعت اسلامي تش په نوم جهاد کښې مشغوله وه او په پاکستان کښې د دهشت ګردۍ د مخ نیوي کولو خو څۀ چې د دې د غندلو توفیق ئې هم نۀ دے لرلې. په داسې حال کښې چې دهشت ګردو په پاکستان کښې د ننه د وزیرستان نه واخله تر سوات پورې خپل اسلامي مملکت جوړ کړے دے او د صوبې ټوله حکومتي مشینري ئې شله کړې ده او زمونږ فوځي قوتونه لګیا دي د حکومتي رټ بحالولو هڅې کوي.



محمد ابراهیم یوه ډېره خاص مسئله چېړلې ده. د صوبې د نوم بحالول د عوامي نېشنل پارټۍ په منشور کښې شامله خبره ده او دا وخت مخلوط حکومت په دې مسئله پوه شوے دے او د دې ادراک ئې کړے دے. داسې مسئلې ته نۀ مسئله وئیل د جمهوري اقدارو او د عامې رائې د کومې چې جماعت اسلامي دعویداره ده، نفي ده. جماعت اسلامي اوس اوس په بونیر کښې شوو انتخاباتو کښې برخه اخستې ده او جمهوري روایات دا غوښتنه کوي چې د عوامو رائې ومنلې شي. پکار ده چې حزب اختلاف د حکومت نه مطالبه وکړي چې تاسو په خپل انتخابي منشور کښې کومې وعدې کړې وې هغه پوره کړئ. ولې جماعت اسلامي د دې برخلاف کوي.

محمد ابراهیم وئیلي دي چې د سیمې خلقو پښتونخوا په ۱۹۴۷ کښې مسترد کړې ده. دلته زۀ دا یادونه ضروري ګڼم چې د دې صوبې خلقو چرې هم پښتونخوا مسترد کړې نۀ ده. صوبائي اسمبلۍ په

دې حواله يو قرار داد پاس کړے دے کوم چې د جماعت اسلامي غړي پير محمد خان مرحوم وړاندې کړے وۀ او په مرکزي حکومت د هغې احترام واجب شوے دے. په ځائے د دې چې دا خبره نوره وچېړلې شي پکار ده چې اوس د وفاقي حکومت جواب ته انتظار وشي.

په دې کانفرنس کښې د هزارې ناظمانو ويره ښکاره کړه چې د صوبې د نوم بدلېدو سره به دا صوبه کمزورې شي او کېدے شي چې خلق په صوبه دننه د نورو صوبو غوښتنې وکړي. دا خبره خپل وزن لري خو زيات وزن په دې خبره کښې دے کۀ چرې د پښتنو د جذباتو قدر ونۀ شو نو دا به د پاکستان د وجود دپاره سودمند نۀ وي. ځکه چې پښتانۀ په دې وطن کښې دوېم لوئے قوت دے او زياتره په دې صوبه پښتونخوا کښې اوسي، د دې نه علاوه په نورو صوبو لکه بلوچستان او سندهـ او پنجاب کښې هم پښتانۀ په معقول شمېر کښې ميشته دي. دا د دوي اسلامي، جمهوري او آئيني حق دے چې د خپل شناخت غوښتنه وکړي. د هزارې ناظمان ويرېږي چې په داسې کېدو سره به د هزارې، چترال او کوهستان خلق هم راوچت شي. څۀ عجيبه خبره ده چې د اقليت غم خو ژړلے شي ولې د اکثريت په اواز غوږونه کڼولے شي. نو داسې خو د پښتنو د جمهوري حق نه انکار د پاکستان د اسلامي وحدت نه انکار کول دي. زمونږ د ځنې سياسي خلقو مسئله دا ده چې کله د حکومت نه بهر وي نو په بې ځايه حربو او بليک ملينګ کښې



مشغول وي. دوي په تشو نعرو ستړے کېږي نۀ او يوې لحظې له دا سوچ نۀ کوي چې د دوي دا انداز به څۀ نتيجې پيدا کوي. دوي په څهرو بدلولو کښې سيال نۀ لري او جماعت اسلامي خو دا اوس اوس بيا ثابته کړه. دوي د اليکشن نه بائيکاټ کړے وۀ خو چې څۀ سياسي فائدې ئې محسوس کړې نو په ضمني انتخاباتو کښې ئې راودانګل. کله چې دوي وليدل چې د عوامي نېشنل پارټۍ د پښتونخوا مسئلې ته خلق هرکلے وائي نو دوي ته دهشت ګردی، انتها پسندۍ او د امن و امان بدحالي راياده شوه. خو د دوي نه تپوس کېدے شي چې تاسو تر اوسه د فاټا او سوات دپاره کوم اواز پورته کړے دے؟ د دوي نه دا پوښتنه هم کېدے شي چې تاسو ولې هغه وخت جنډې وچتې کړې وې کله چې وکيلان د خپلو دفترونو نه راوتلي وو او کله چې د دغې تحريک سرخېل اعتزاز حسن د پښتونخوا پښتونخوا نغمې وئيلې. دوي هره ورځ د غزه (فلسطين) باره کښې خو بيانونه جاري کوي خو څومره ئې د خپل وطن غم ژړلے دے؟

په دې مخصوص وخت کښې د دې غوښتنې سره د دوي اصل غرض دا دے چې عسکريت پسندۍ سره همدردي لرونکي يو ځل بيا د خلقو توجه د اهمو مسئلو نه واړوي. د دې يو تازه مثال دا دے چې دې جماعت اوس اوس په سوات کښې د جينکو د سکولونو د ورانولو باره کښې خبرې شروع کړې وې خو هم په هغه وخت ئې دا کوشش هم کولو چې د دې دپاره څۀ وجوهات راپېدا

کړي. دوي لږ وخت مخکښې د عسکريت پسندو د
نفرت آميزه کارونو غندنه هم کوله خو هم په هغه
وخت به ئې نور عناصر د دې ذمه وار ګرځول. ولې
دا مذهبي پارټۍ يو کانفرنس نۀ کوي چې پکښې د
خودکش حملو، سکولونه ورانولو، خلقو وژلو او
ويرې ترهې خورولو خلاف فتوې ورکړي.